مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۹۰** (از ۲۵ جدی الی ۲ دلو ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................................................................ ۲
**د «افغانستان په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې» څېړنیز راپور لنډه خلاصه .................. ۳**
د څېړنې تګلاره (مېتودولوژي) ............................................................ ۳
د راپور موخې او ارزښت .............................................................. ۴
د راپور جوړښت .................................................................... ۴
لومړی فصل؛ سوله.......................................................................... ۵
دويم فصل؛ بهرنی سیاست ......................................................... ۷
درېيم فصل؛ اداري فساد ........................................................... ۸
څلورم فصل؛ کډوال او کورني بې‌ځايه شوي................................................ ۹
پنځم فصل؛ اقتصاد ................................................................. ۱۱
شپږم فصل؛ امنیت او جرایم............................................................ ۱۳
اووم فصل؛ معارف او لوړې زده‌کړې...................................................... ۱۴
**گزارش کنفرانس مطبوعاتی «افغانستان در یک‌ونیم دهۀ گذشته» ................. ۱۶**


## مقدمه

«افغانستان په تېره يوه‌نيمه لسيزه کې» هغه څېړنيز – تحليلي راپور دی، چې د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له‌خوا د هېواد د تېرې يوې‌نيمې لسيزې د وضعيت په اړه چمتو شوی دی. دغه راپور تېره اوونۍ (سه شنبه – د جنوري 17مه) په کابل کې د يوې خبري ناستې پر مهال خپور شو او مهمې پايلې او موندنې يې د رسنيو له‌خوا په پراخه کچه خپرې شوې.

د دې اوونۍ د تحليل ګڼه د همدغه راپور پايلو او موندنو ته ځانګړې شوې ده. په لومړۍ برخه کې د تحليلي – څېړنيز راپور يوې لنډې خلاصې ته ځای ورکړل شوی او په دويمه برخه کې، د دغې څېړنې په تړاو د جوړ شوي مطبوعاتي کنفرانس تفصيلي راپور لولئ.

د يادونې وړ بولو، چې د راپور د حجم زياتوالي ته په کتلو سره ښايي د راپور يو شمېر مهمې پايلې او موندنې له دې خلاصې بهر پاتې وي او په ځانګړي ډول، سره له دې چې په راپور کې ۱۳۹۴ کال ته ډېر ځای ورکړل شوی، خو دا چې راپور د ټولې يوې‌نيمې لسيزې د وضعيت په اړه چمتو شوی، په دې خلاصه کې د ۱۳۹۴ کال پېښو ته ډېر ځای نه دی ورکړل شوی. موږ درنو لوستونکو ته وړانديز کوو، چې د تفصيلي معلوماتو حاصلولو لپاره بشپړ راپور ته مراجعه وکړي.

## د «افغانستان په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې» څېړنیز راپور لنډه خلاصه




### اړتیا:

بېلابېلې اداري د افغانستان په اړه کلني راپورونه خپروي؛ خو دا راپورونه یا خو یوازې تر یوه ځانګړي سکتور پورې محدود وي او یا هم د ټولو سکتورونو په تړاو یوازې احصائیات او یا هم د سروې‌ګانو موندنې نېیي. تراوسه د هېواد په کچه داسې کوم څېړنیز او تحلیلي راپور نه دی خپور شوی، چې په ټولیزه توګه یې وروستي پنځلس کلونه تحلیل کړي او څېړلي وي. له همدې کبله د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د افغانستان د تېرې یوې‌نیمې لسیزې د وضعیت ارزولو په تړاو د یوه تحلیلي او څېړنیز راپور چمتو کولو تابیا وکړه.

### د څېړنې تګلاره (مېتودولوژي):

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز دغه تحلیلي او څېړنیز راپور د دواړو کمي (Quantitative) او کیفي (Qualitative) څېړندودونو له مخې په شاوخوا ۴۰۰ مخونو کې لیکل شوی دی.

د څېړنې په کیفي برخه کې د راپور د بېلابېلو برخو د ارزونې په موخه، د مرکز علمي شورا او څېړونکو تقریباً ۲۴ ناستې درلودې. د دې ترڅنګ د دغه راپور د ځینو برخو په تېره بیا د سولې، اداري فساد، کډوالو، معارف او لوړو

زده‌کړو او بهرني سیاست په تړاو له یو شمېر متخصصینو او په خپله د لومړي لاس له مراجعو سره مرکې وشوې، چې د راپور په متن کې ورته اشاره شوې. همدا راز مرکز د یو شمېر برخو په اړه د معلوماتو د تحلیل او پیاوړتیا لپاره داخلي سیمینارونه یا (in-house sessions) هم چمتو کړي وو.

په کمي برخه کې، مرکز د ۱۳۹۴ کال د مجموعي وضعیت ارزولو لپاره د هېواد د نخبه‌ګانو د نظرونو معلوماتو په موخه یوه نظرپوښتنه وکړه. دغه نظرپوښتنه له ۷۰۱ کسانو څخه چې ۷۰ سلنه یې نارینه او ۳۰ سلنه یې مېرمنې وې او لېترلږه د لیسانس درلودونکي وو، د ۵۰ بندو-اختیاري پوښتنو له لارې د هېواد په شپږو لویو ښارونو کې ترسره شوه. د راپور په اړوندو برخو کې د دغې سروې موندنې هم ځای پرځای شوې دي.

دغه راز د راپور لیکلو پرمهال د نورو نړیوالو او کورنیو ادارو له راپورونو، اکاډمیکو مقالو، کتابونو، ورځپاڼو، اعلامیو او نورو لومړي او دویم لاس مراجعو څخه هم ګټه اخیستل شوې او یادونه یې ځای پرځای د راپور په ۴۵۰ لمنلیکونو کې شوې ده. د دې ترڅنګ د عمومي وضعیت د لا روښانه کولو په تړاو په دغه راپور کې۸۰ شکلونه او ۵۴ جدولونه هم له ماخذونو سره یوځای راغلي دي.

## د راپور موخې او ارزښت:

د دغه راپور عمده موخې په لاندې ډول دي:

- د مهمو سکتورنو شالید بیانول؛
- د وروستیو پنځلسو کلونو د مهمو سکتورنو وضعیت بیانول او ارزول؛
- د ارقامو د ښکته پورته‌والي عوامل بیانول؛
- د هر سکتور ستونزې او ننګونې ښودل؛
- د هر سکتور په تړاو خپل وړاندیزونه او سپارښتنې لیکل؛

## د راپور جوړښت:

دغه راپور یوه سریزه، د راپور لنډیز، اووه فصلونه او د پایلې بېل باب لري. د راپور په اوو فصلونو کې لاندې برخې شاملې دي:

1. سوله؛
2. بهرنی سیاست؛
3. اداري فساد؛
4. کډوال او کورني بې‌ځایه شوي؛
5. اقتصاد، چې پر نورو ضمني برخو لکه (ملي اقتصاد، سوداګري، انرژي، صنعت او زراعت) وېشل شوی؛
6. امنیت او جرایم؛
7. معارف او لوړې زده‌کړې.

په دغه تحلیلي او څېړنیز راپور کې یاد شوي سکتورونه څکه بحث شوي، چې په وروستیو پنځلسو کلونو کې همدا سکتورونه تر ټولو زیات د پاملرنې وړ وو. که څه هم یو شمېر نورو سکتورونو هم تقریباً همدومره ارزښت درلود؛ خو د وخت او وسایلو د کمښت له کبله مو ونه شوای کړای، څو دغه سکتورونه هم په خپل راپور کې تحلیل او وڅېړو. همدا راز د یادونې وړ ده، چې په راپور کې په ۱۳۹۴ کال زیات تمرکز شوی دی.

## لومړی فصل؛ سوله:

**په راپور کې راغلي موضوعات:** د راپور په لومړي فصل کې د سولې دوسیه څېړل شوې، په سر کې یې په افغانستان کې د سولې د هڅو مخینه (۱۳۵۲-۱۳۸۰) راغلې، بیا له ۱۳۸۰ کال راهیسې د سولې هڅې څېړل شوې، چې مهمې برخې یې د سولې عالي شورا جوړېدل، د طالبانو د قطر دفتر، د سولې په خبرو اترو د طالبانو د رهبری او مشرانو د بدلون اغېزې، د سولې په قضیه کې د پاکستان رول، له حزب اسلامي سره د سولې خبرې، او له طالبانو سره د خبرو اترو د ناکامی لاملونه دي.

دغه راز په دې فصل کې د ملي وحدت حکومت له‌خوا شوې هلې ځلې، لکه د ارومچي خبرې، په اسلام‌اباد کې د مري ناسته، څلور اړخیزې خبرې اترې او د بهرني سیاست له لارې د سولې پروسې ته داخلېدل څېړل شوي.

**د راپور محتوا:** افغان حکومت له ۲۰۰۱ کال وروسته د سولې تر نامه لاندې یو شمېر ګامونه پورته کړل، لکه د بې‌وسلې کولو او ملکي کولو پروګرام، د تحکیم صلح کمیسیون او د سولې عالي شورا جوړونه. که څه هم د بې‌وسلې کولو او ملکي کولو پروګرام د کاغذ پرمخ ډېر کامیاب و او د تحکیم صلح کمیسیون بیا وروسته د سولې

عالي شورا په بنه بدلون ومومند؛ خو بیا هم دغو دواړو ارګانونو تراوسه د سولې په اړه ډېرې کمې لاسته‌راوړنې لرلې دي.

د سولې عالي شورا یوازې د دولت د وسله‌والو مخالفینو په نامه یو شمېر خلک د سولې له پروسې سره یوځای کړل او له افغان طالبانو سره یې د خبرو اترو په برخه کې هم ډېرې محدودې لاسته راوړنې لرلې.

د سولې عالي شورا د بریالیتوب په لاره کې مهم خنډونه، د صلاحیت او استقلال نشتوالی، د شورا د غړو ترمنځ د همغږۍ نشتوالی، د مشخصې تګلارې او مېکانېزم نشتون، د سولې د مفهوم ستونزه، د شورا په مشرتابه کې طالب‌ضد څېرې او د سیاسي رشوت په توګه د شورا د پوستونو کارېدنه او داسې نور وو.

په بل اړخ کې، په ۲۰۱۳ کال کې په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر پرانیستل شو. که څه هم دغه دفتر د افغان حکومت له‌خوا په رسمیت ونه پېژندل شو، خو بیا هم د دغه دفتر غړو د بندیانو په تبادله او پرېښودو کې رول ولوباوه، په نړیوالو کنفرانسونو کې یې ګډون وکړ، له نړیوالو او خپله د افغانانو له بېلابېلو ډلو سره یې د طالبانو د ډلې اړیکې پراخې کړې.

د افغانستان د سولې بهیر په تېراو څلور اړخیزې خبرې اترې ناکامې شوې؛ ځکه نه یې افغان طالبان سولې ته چمتو کړای شول او نه هم پکې پاکستان خپلې کړې ژمنې عملي کړای شوې. له همدې کبله وایو، چې که څه هم د افغانستان قضیه بهرنی او سیمه‌ییز اړخ لري؛ خو بیا هم هېواد ته سوله د بهرني سیاست له لارې نه شي راتللای. باید له طالبانو سره بین‌الافغاني تفاهم ته لاره پرانیستل شي.

د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ هم د سولې خبرې اترې په ۲۰۱۰ کال کې پیل شوې او دا خبرې اترې په ۲۰۱٦ کال کې د خپل وروستي پړاو په لور ولاړې او دغه ګوند له ملي وحدت حکومت سره د سولې هوکړې ته نژدې شو. دا چې ولې د کرزي په دوره کې د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې خبرې اترې ناکامې شوې، عمده لاملونه یې د جګړې په ډګر کې د حزب اسلامي کم رول، له حزب اسلامي سره د ځینو کابل مېشته لورو او ډلو سیاسي مخالفتونه، په خبرو اترو کې د حزب اسلامي سخت دریځ، د نړیوالو او په ځانګړي ډول د امریکا د ملاتړ نشتون، په خبرو اترو کې بدګماني او د دغه ګوند پاشلی دریځ وو.

**د راپور سروې:** د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د سروې له مخې، به مجموعي ډول د ۷۲.۴۸ سلنه خلکو په ګمان به د سولې په اړه د ملي وحدت حکومت اوسني سیاستونه او هڅې بریالۍ نه شي؛ ځکه د ډېرې خلکو (٦۲.۱٦ سلنه) په ګمان د ملي وحدت حکومت د سولې په برخه کې صادقانه هلې ځلې نه کوي، د

ډېری خلکو (۵۸.۰۲ سلنه) په گمان به د افغانستان د سولې په اړه څلور اړخيزې ناستې پام‌وړ پايله ونه لري او (٦٦.۰۷ سلنه) خلکو د سولې عالي شورا رول منفي ارزولی دی.

دا چې د سولې په راتگ کې لوی خنډ څوک جوړوي، د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له‌خوا د ترسره شوې سروې له مخې، د خلکو په گمان تر ټولو زيات بهرنيان (٦٨.۸۹ سلنه چې ۵۱.۰۸ سلنه امريکايان او ۱۷.۸۱ سلنه گاونډيان دي) خنډ جوړوي. خو په بل اړخ کې د دغې سروې د ۵۹.۵٦ سلنه خلکو په نظر يوازې د افغانانو يو بې‌طرفه منځگړی گروپ کولای شي، چې د افغانستان د سولې په برخه کې په ښه ډول د افغان حکومت او افغان طالبانو ترمنځ مخامخ خبرو اترو ته لاره پرانيزي.

## دويم فصل؛ بهرنی سياست:

**د راپور موضوعات:** د بهرني سياست په برخه کې د افغانستان د بهرني سياست تاريخي شاليد (له ۱۳۸۰ کال مخکې پړاو)، له ۲۰۰۱ يا ۱۳۸۰ کال وروسته بهرنی سياست، په تېرو پنځلسو کلونو کې د بهرني سياست عمده نکات، له گاونډيانو او د سيمې له هېوادونو، اسلامي نړۍ، لويديزې نړۍ او اروپا سره د کابل د اړيکو مخينه او اوسنی وضعيت، د ملي يووالي حکومت پرمهال بهرنی سياست (په ځانگړې ډول ۱۳۹۴ کال) او د بهرني سياست ستونزې او ننگونې بحث شوې دي.

**د راپور محتوا:** له ۱۳۸۱ کال څخه تر ۱۳۹۴ کال پورې د افغانستان بهرنی سياست له دريو پړاوونو تېر شو، چې لومړی پړاو يې د حامد کرزي لنډمهاله او لومړۍ دورې وې؛ دويم پړاو يې د حامد کرزي د واکمنۍ دويمه دوره او دريم پړاو بيا د ملي وحدت حکومت له جوړېدو وروسته پيل شو.

په دغه يوونيمه لسيزه او دريو پړاوونو کې د افغانستان د بهرني سياست عمده نکات له نړۍ سره اړيکې جوړول، هېواد ته مرستې راجلبول، اوږدمهالې اړيکې (ستراتېژيک تړونونه لاسليک کول)، څو اړخيزتوب (ملټي-لېټرالېزم)، د ترهگرۍ پرضد جگړه، سيمه‌ييز اقتصادي پيوستون، امنيتي همکارۍ او داسې نور وو.

په دغو پړاوونو کې د افغانستان بهرني سياست ته ورپېښې ننگونې او ستونزې د بهرني سياست د اساسي کرښو نشتون، د هېواد داخلي وضعيت، د سيمې جيو-اقتصادي بدلونونه، له سيالو هېوادونو سره په اړيکو کې د توازن نشتوالی، په ځانگړې ډول له پاکستان سره د اړيکو خړنگوالی، په نړيوال سياست کې د افغانستان د بهرني سياست د اغېزو نشتون، د رسنيو او مطبوعاتو د ملاتړ نشتون او د غړ رسولو د ابزارو کمښت، د مسلکي

ديپلوماتانو او بهرنيو چارو جوړوونکو کمښت، په بهرنيو چارو وزارت کې خپلوي‌پالنه، اداري فساد او قومي او ولايتي ناانډولي، د بهرني سياست په اړه د افغان حکومت ناهمغږۍ تګلاره، د بهرني سياست په اړه د ملي شورا او حکومت ترمنځ د همغږۍ نشتوالی، د بهرني سياست په اړه د کره او مسلکي څېړنو کمښت او په پوهنتونونو کې د سيمه‌ييزو څېړنو د مرکزونو نشتون او داسې نور وو.

**د راپور سروې:** ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د سروې له مخې ٦۴.۹۱ سلنه خلکو د هېواد بهرنی سياست خراب ارزولی و او د دې بې‌باورۍ لوی لامل دا و، چې د ۸۷.۷۱ سلنه په ګمان حکومت د دوو سيالو هېوادونو ترمنځ ناانډوله او غيرمتوازن سياست لرلی. ۸۱ سلنه بيا د امريکا له پوځي حضور او له امريکا سره د امنيتي تړونونو له لاسليک کولو سره موافق نه وو.

## درېيم فصل؛ اداري فساد:

**په راپور کې راغلي موضوعات:** د اداري فساد په دوسيه کې د اداري فساد پېژندنه، په افغانستان کې د اداري فساد وضعيت ته کتنه، د دغې پديدې په تړاو د ملي او نړيوالو ادارو د سروې‌ګانو او راپورونو جاج او تحليل، په اداري فساد کې د بهرنيانو رول، د اداري فساد پرضد اخيستل شوي ګامونه، د اداري فساد پر وړاندې د ملي يووالي حکومت کړنلاره، له اداري فساد سره د مبارزې هغه ژمنې چې د ملي يووالي حکومت عملي نه کړې، په ۱۳۹۴ کال کې اداري فساد د خلکو له نظره (د مرکز د سروې پايلې)، د اداري فساد پرضد د حکومت د ناکامۍ لاملونه او اړوند وړانديزونه راغلي دي.

**د راپور محتوا:** له ۲۰۰۵، ۲۰۰٦ او ۲۰۰۷ کلونو راوروسته د روڼتيا نړيوال سازمان، ايشيا فاونډيشن او د افغانستان د روڼتيا څار ادارې د افغانستان د اداري فساد په اړه سروې‌ګانې او څېړنې پيل کړې او د اداري فساد پرضد د دغو څېړنو او سروې‌ګانو پر مټ ويلای شو، چې په هېواد کې د اداري فساد کچه نه يوازې دا چې کمه نه شوه، بلکې په ۱۳۹۴کال کې خپل اوج ته ورسېدله. په دغو کلونو کې د افغانانو ترڅنګ بهرنيان هم په اداري فساد کې ښکېل وو.

که څه هم افغان حکومت په تېرو پنځلسو کلونو کې د اداري فساد پر ضد يو شمېر قوانين او اداري رامنځته کړې؛ خو بيا هم د اداري فساد پرضد اغېزناک ثابت نه شول. دا چې افغان حکومت له خپلو هلو ځلو سره سره، بيا هم اداري فساد ختم يا کم نه شو کړای، مهم لاملونه يې په حکومت کې د سياسي ارادې نه شتون، د قضايي

سیستم کمزوري او نیمگړتیا، د اداري فساد-ضد ادارو او نورو حکومتي ادارو ترمنځ ناهمغږي، د اصلاحاتو کموالی یا نشتون، د حقیقي حساب ورکونې او شفافیت کموالی یا نشتون، په اداري فساد کې د حکومتي چارواکو ښکېلتیا، مافیا او زورواکي، کمه څارنه، ناسم مدیریت، د بهرنیانو دخالت، د اداري فساد پرضد د حکومت ناهمغږۍ تګلاره او یو شمېر نور وو.

**د راپور سروې:** ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز په سروې کې د ډېری خلکو (۷۶.۵۴ سلنه) په اند، ملي وحدت حکومت د اداري فساد پرضد مبارزه کې د زړه له کومې هڅې نه کوي. په بل اړخ کې بیا ۴۴.۵۸ سلنه خلکو په ګمان د تېر حکومت په پرتله، د ملي وحدت حکومت پرمهال اداري فساد زیات شوی.

## څلورم فصل؛ کډوال او کورني بې‌ځایه شوي:

**په راپور کې راغلي موضوعات:** د کډوالو او کورنیو بې‌ځایه شوو دوسیه کې هم په افغانستان کې د کډوالۍ شالید، د افغانانو د معاصرې کډوالۍ بهیر پړاوونه، په ګاونډیو هېوادونو کې د کډوالو وضعیت، په صنعتي هېوادونو کې افغان کډوال او وضعیت یې، په هېواد کې دننه کډوالي او عوامل یې، افغانستان ته د کډوالو بېرته راستنېدنه، په افغانستان کې د وزیرستان کډوال، د کډوالو په اړه د تېرو حکومتونو تګلاره، د افغان کډوالو ستونزې او ننګونې او په اړه یې د مرکز وړاندیزونه او سپارښتنې شاملې دي.

**د راپور محتوا:** په افغانستان کې کډوالي زوړ تاریخ لري؛ خو معاصره ډله‌ییزه کډوالي د ثور له کودتا سره پیل شوه او صنعتي هېوادونو او ګاونډیو هېوادونو ته یې د افغانانو د کډوالۍ څپې چټکې کړې او ترڅنګ یې په هېواد کې دننه هم خلک د خپلو کورنو پرېښودو او بې‌ځایه کېدو ته اړ کړل.

له افغانستانه نورې نړۍ ته د افغان کډوالو د کډوالۍ بهیر په څلورو پړاوونو کې پر مخ ولاړ، خو تر ټولو زیاته کډوالي په دویم پړاو یعنې د شورویانو د اشغال پرمهال وشوه. د شورویانو له وتلو وروسته هېواد ته یو شمېر کډوال بېرته راستانه شول؛ مګر بیا هم د کورنۍ جګړې له پیلېدو سره د کډوالۍ بهیر همداسې روان پاتې شو. له ۲۰۰۱ کال وروسته، په افغانستان کې د امنیت له ټینګېدو او د نوي نظام له راتګ سره د اقتصادي هلو ځلو له پیلېدو سره له ګاونډیو هېوادونو څخه یو شمېر کډوال هېواد ته راستانه شول؛ خو وروسته د ناامنیو له پراخېدو، د اقتصادي وضعیت له خرابوالي او د سولې په تړاو د تت راتلونکي له کبله هېواد ته د کډوالو د راستنېدو بهیر یو ځل بیا اغېزمن شو او په بل اړخ کې د اروپا په لور هم د ځوان پاړکي تګ زیات شو.

دا چې ولې له تېرو څو کلونو او په تېره بیا له یوه کال راهیسې افغانان د هر بل وخت په پرتله له هېواده د وتلو ډېره هڅه کوي، عمده عوامل یې ناامنۍ او جګړې، بې‌کاري، په ځینو اروپایي هېوادونو کې د قبلېدو آسانه شرایط، اقتصادي عوامل، په هېواد کې دننه سیاسي بې‌ثباتي او د سولې تت راتلونکی وو. په هېواد کې د داخلي کډوالۍ تر شا هم عمده عوامل ناامنۍ، وسله‌والې شخړې او ډلې، په ښارونو کې کاري فرصتونه او طبیعي آفتونه وو.

دا چې افغان کډوال ولې هېواد ته نه راستنېږي، عمده عوامل یې په افغانستان کې ناامنۍ او د ثبات نشتوالی، په ښه حکومتولۍ کې د حکومتونو ناکامي، په هېواد کې اقتصادي ستونزې او له سیاسي مخالفتونو سره مخ کېدنه، فکري مخالفتونه، د کډوالو په کوربه هېوادونو کې د ژوند اسانتیاوې (روغتیایي، ښوونیز او نور خدمات) او داسې نور دي.

نه یوازې دا چې افغان حکومت د کډوالو په برخه کې له ستونزو سره مخ دی، بلکې خپله کډوال هم په ګاونډیو او نورو هېوادونو کې بې‌شمېره ستونزې لري. د کډوالو په برخه کې د حکومت ستونزې او ننګونې د کډوالۍ په پروسه کې اداري فساد، د کډوالو په تړاو د څرګند پلان نشتون، د کډوالو د بېرته ستنېدلو له کبله په ځینو سکتورونو کې د نورې پانګونې اړتیا، اروپا ته د کډوالۍ له کبله له هېواده د لوستي پاړکي وتل او د کډوالو د راستنېدلو له کبله پر ښارونو فشار او داسې نور دي.

خپله کډوال بیا له لاندې ستونزو سره مخ دي: هېواد ته له راستنېدلو وروسته د بېرته یوځای کېدو ستونزې، په لوېدیزو او نورو هېوادونو کې کلتوري او فرهنګي ستونزې، اروپا ته پر لارې د مرګ ګواښونه، په ګاونډیو او نورو هېوادونو کې د بنیادي حقونو ځپل کېدل، په نیابتي جګړو کې د خامو توکو په توګه استعمالېدل، د مالي امنیت نشتوالی، په کوربه هېوادونو کې د کاري فرصتونو او د زده‌کړو محدودیت، اجباري ایستل او داسې نور.

له بله پلوه، دغه کډوال خپله د افغان حکومت او ګاونډیو هېوادونو لپاره یو ښه فرصت او ښه شتمني هم ده. بهر مېشتي افغان کډوال هېواد ته د پیسو په رالېږدولو سره د هېواد پر اقتصاد مثبتې اغېزې ښندلای شي (د هېواد دننه پانګونې زیاتېږي او د تقاضا په لوړولو کې هم مرسته کوي). د دې ترڅنګ دغه کډوال ډېری یې مسلکي کسان، لوستي او متخصصین هم دي.

ګاونډیو او نورو هغو هېوادونو ته چې د افغان کډوالو کوربه دي، په افغانستان کې د دوی د نرم ځواک په زیاتولو کې مرستندوی واقع کېدلای شي. له کابل سره د ښو راتلونکو اړیکو ښودنه کوي، له اقتصادي پلوه هم دوی ته ارزانه مزد او مزدوري ورکوي او د دوی په هېوادونو کې د بېلابېلو توکو تقاضا پورته کوي.

**د راپور سروې:** د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د سروې له مخې ۵۰.۹ سلنه خلکو په ګمان په هېواد کې وضعیت خراب دی او خلک باید کډوال شي او د ۵۸.۴ سلنه خلکو په اند اوسنی حکومت د تېر حکومت په پرتله د کډوالو په اړه خراب سیاست لري.

## پنځم فصل؛ اقتصاد:

**په راپور کې راغلي موضوعات:** په پنځم فصل کې د هېواد اقتصادي وضعیت په ملي اقتصاد، سوداګرۍ، انرژۍ، صنعت او زراعت برخو کې څېړل شوی دی. په دغو برخو کې کورني ناخالص تولیدات، اقتصادي وده، پانګونه او د کمېدو عوامل یې، د افغانۍ ارزښت او د کمېدو عوامل یې، په افغانستان کې د سوداګرۍ شالید، د نړیوالې سوداګرۍ سازمان کې د افغانستان غړیتوب او اغېزې یې، د افغانستان د سوداګرۍ ستونزې او ننګونې، په هېواد کې د انرژۍ سرچینې او ظرفیت، د هېواد دننه د برېښنا تولید، وارداتي برېښنا، د انرژۍ سیمه‌ییزې پروژې او د افغانستان د انرژۍ ستونزې، په افغانستان کې د صنعتونو وضعیت، د صنعتونو ستونزې او ننګونې، د د کرنې او مالدارۍ سکتور ته کتنه، په اقتصاد کې د کرنې او مالدارۍ ارزښت، د کرنې او مالدارۍ ستونزې او نور بېلابېل عنوانونه شامل دي.

**د راپور محتوا:** د طالبانو د نظام له سقوط وروسته، په افغانستان کې د نوي نظام بنسټ کېښودل شو او په اقتصادي نظام کې هېواد د آزاد بازار په لور ولاړ. په تېره پنځلس‌کلنه دوره کې په عمومي ډول د اقتصادي شاخصونو شمېرې لوړې شوې، خو بیا هم دغه شاخصونه- لکه اقتصادي وده، پانګونه، د افغانۍ ارزښت، بې‌کاري او نور- تر ډېره له ناامنیو، سیاسي بې‌ثباتۍ او د بهرنیانو له ملاتړ سره تړل شوي وو. هر کله چې ناامنۍ او سیاسي بې‌ثباتي زیاته شوې، نو په منفي توګه یې پر دغو شاخصونو اغېزه کړې ده.

له ۲۰۰۱ کال وروسته، د افغانستان د سوداګرۍ کچه مخ په زیاتېدو شوه؛ خو بیا هم د سوداګرۍ په برخه کې د افغانستان اساسي ستونزې د سوداګرۍ د کسر زیاتېدنه، ترانزیټي ستونزې او زراعت او صنعتونو ته کمه پاملرنه وه.

له ۲۰۰۱ کال وروسته، ډېرو افغانانو برېښنا او انرژۍ ته لاسرسی پیدا کړ؛ خو په هېواد کې دننه د برېښنا تولید ډېر کم و او له همدې کبله افغانستان د خپلې برېښنا د اړتیا پوره کولو لپاره له ګاونډیو هېوادونو څخه برېښنا وارده کړه او له ۲۰۰۷ میلادي کال څخه تر ۲۰۱۵ میلادي کال پورې یې د شاوخوا ۹۷۳ میلیون ډالرو برېښنا وارده کړې ده. افغانستان که څه هم د انرژۍ او برېښنا تولیدولو ډېرې وړتیاوې لري؛ خو په تېرو پنځلسو کلونو کې یې له خپلو وړتیاو څخه کمه ګټه اخیستې او په دې برخه کې کم پرمختګ شوی دی.

په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې د انرژۍ د لویو پروژو او نللیکو تېرولو په تړاو هم هلې ځلې وشوې او په دې برخه کې د تاپي د ګازو نللیکې، کاسا-زر برېښنا مزي، تونټاپ، تاتک (ترکمنستان-افغانستان-تاجکستان-چین) پروژو باندې کارونه وشول، چې د نورو په پرتله پر تاپي او کاسا-زر پروژو ډېر کار وشو. خو د انرژۍ په برخه کې عمده ستونزه د ناامنیو وه؛ ځکه د دغو ناامنیو له کبله د آمو د تېلو پر حوزې او د انرژۍ پر یو شمېر نورو پروژو عملي کارونه نه دي پیل شوي او شاید د ناامنیو له کبله به پانګوال د انرژۍ په لویو پروژو کې پانګونه هم ونه کړي.

په افغانستان کې لاهم د برېښنا متحده شبکه نه ده رامنځته شوې او نه له ګاونډیانو سره (له ایران پرته) د اوبو د وېش تړونونه لاسلیک شوي دي.

په تېرو پنځلسو کلونو کې د افغانستان اقتصاد تر ډېره پر بهرنیو مرستو متکي و او له همدې امله د ملي مالي بودیجې انکشافي برخه هم تر ډېره پر بهرنیو مرستو روانه وه. کرنې او مالدارۍ ته، چې د افغانستان د اقتصاد د ملا تیر حیثیت لري، ډېره کمه پاملرنه وشوه او د هېواد صنعتي کېدل هم تر ډېره خصوصي سکتور ته پرېښودل شول. دغو برخو ته د کمې پاملرنې له امله وه، چې افغانستان د خپل اړتیا وړ صنعتي او زراعتي توکي له بهر څخه واردول. دغه راز روانې ناامنۍ، جګړې او سیاسي بې‌ثباتۍ هم د هېواد پر اقتصادي وضعیت منفي اغېزه کړې وه. خو بیا هم په یو شمېر برخو (د سړکونو او لویو لارو جوړونه) او سکتورونو (خدماتو) کې وده او پرمختګ ولیدل شو؛ خو دا بیا دومره نه و، چې د هېواد اقتصادي تکیه او اقتصادي وده په ځان پسې راکاږي.

**د راپور سروې:** د مرکز د سروې له مخې تقریباً ۷۲ سلنه خلک په اقتصادي ډګر کې پر اوسني حکومت بې‌باوره دي او د دوی په اند، عمده عوامل یې په ښه حکومتولۍ کې ناکامي، د نرخونو لوړېدل، د کاري فرصتونو کمښت او نور دي. دغه راز د ٦٧ سلنه په ګمان په اوسني حکومت کې یې اقتصادي وضعیت خراب شوی او همدا راز تر ۴۵ سلنه پورې بیا په دې ګمان وو، چې د هېواد اقتصادي وضعیت به نور هم خراب شي.

## شپږم فصل؛ امنیت او جرایم:

**په راپور کې راغلي موضوعات:** دا دوسيه په دوو برخو وېشل شوې: لومړۍ برخه د امنيت او دويمه د جرايمو ده. په دغو برخو کې د جګړې او جرمونو تاريخي شاليد، په هېواد کې د امريکا امنيتي ستراتيژي، په ۱۳۹۴ کال کې امنيتي وضعيت، د افغان امنيتي ځواکونو، امريکايانو او ملکيانو تلفات. شمال ته د جګړې انتقال، د ولسواليو سقوط او عوامل يې، د افغان ځواکونو ستونزې او ننګونې، د جرمونو د زياتېدو عوامل، د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی او عوامل يې او نور موضوعات څېړل شوي.

**د راپور محتوا:** په افغانستان کې سياسي بې‌ثباتي د داود خان د ۱۳۵۲ کال له کودتا څخه او امنيتي بې‌ثباتي بيا د کمونستانو د ۱۳۵۷ کال له کودتا څخه پيل شوه. دغو سياسي او امنيتي بې‌ثباتيو ته په ۱۳۸۱ کال کې په نسبي ډول د پای ټکی کېښودل شو؛ له ۱۳۸۰ کال څخه تر ۱۳۸۳ کال پورې په نسبي ډول په افغانستان کې سياسي او امنيتي ثبات و؛ له ۱۳۸۴ کال څخه وروسته کال په کال ناامنی زياتې شوې او په ۱۳۸۸ او بيا له ۱۳۹۳-۱۳۹۴ کال راهيسې سياسي بې‌ثباتي هم تر ټولو زياته شوه او په ۱۳۹۴ کال کې اوج ته ورسېدله.

د سياسي او امنيتي بې‌ثباتيو په پړاو کې په هېواد کې کال په کال ملکي تلفات زيات شول. په بل اړخ کې د امريکايي او ناټو پوځيانو تلفات هم تر ۱۳۹۰ کال پورې په زياتېدو وو؛ خو افغان امنيتي ځواکونو ته د عملياتو په برخه کې واک سپارنه او په هېواد کې د امريکايي پوځيانو د شمېر کمېدلو او په جګړه کې يې د رول له کمېدا سره د بهرنيو پوځيانو تلفات هم مخ پر کمېدو شول.

په تېرو پنځلسو کلونو کې د امنيت ټينګولو په موخه دوه عمده ګامونه پورته شول: د بې‌وسلې کولو پروسه او د ملي اردو او افغانستان امنيتي ځواکونو جوړونه او تجهيز. سره له دې چې د بې‌وسلې کولو پروګرام بريالی برېښېده؛ مګر په حقيقت کې اوس هم يو شمېر ډلې وسلې لري. د امنيتي ځواکونو په برخه کې د تجهيزاتو، پر بهرنيو مرستو تکيه، په امنيتي برخه کې اداري فساد، د امنيتي ځواکونو د تلفاتو زياتېدنه، د امنيتي ځواکونو له ليکو تېښته او يو شمېر نورې ستونزې او ننګونې دي.

**د راپور سروې:** د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د سروې له مخې ۴۶.۰۱ سلنه په ګمان به ناامنی نورې هم زياتې شي، د ۲۵.۹۶ سلنه په اند به همداسې وي او د ۱۴.۲۸ سلنه په ګمان به امنيتي وضعيت ښه شي. دا چې د ناامنيو لوی لاملين څه دي، د ۴۱.۳۹ سلنه په ګمان بهرني سرتيري، ۱۹.۵۹ سلنه ګاونډي هېوادونه دي.

## اووم فصل؛ معارف او لوړې زده‌کړې:

**په راپور کې راغلي موضوعات:** دا دوسیه هم په دوو برخو ویشل شوې: (۱) معارف، (۲) لوړې زده‌کړې. په دغو برخو کې د افغانستان د معارف او لوړو زده‌کړو تاریخي شالید او وضعیت یې، په دغو برخو کې ننګونې او ستونزې او د خلکو نظرپوښتنه شامله ده.

**د راپور منځپانګه:** له ۲۰۰۱ کال وروسته، افغانستان د ښوونې او روزنې او لوړو زده‌کړو په برخه کې د نورو برخو په پرتله ډېر پرمختګ وکړ. د بېلګې په ډول په ۱۳۸٦ کال کې د ټول هېواد په کچه تقریباً ۹۰۱۷ ښوونځي وو، چې له ۴.۵ میلیونو څخه زیاتو زده‌کوونکو له ۱۴۹ زره څخه زیاتو ښوونکو څخه زده‌کړې کولې. دغه کچه په ۱۳۹۴ کال کې لوړه شوه، او تقریباً له ۷.۲ میلیونو څخه زیاتو زده‌کوونکو ته له ۲۰۳ زره څخه زیاتو ښوونکو ښوونه او روزنه کوله. د ښوونې او روزنې د تخنیکي او اسلامي زده‌کړو په برخه کې هم پرمختګ ولیدل شو، چې د ښوونې او روزنې او لوړو زده‌کړو په برخه کې په تفصیلي توګه اشاره ورته شوې ده.

په بل اړخ کې د لوړو زده‌کړو په برخه کې هم ډېر پرمختګ ولیدل شو. د بېلګې په توګه د پوهنتونونو، پوهنځیو، زده‌کوونکو او استادانو شمېره د وخت له تېرېدو سره زیاته شوه. په ۱۳۸۸ کال کې په افغانستان کې ۲۲ دولتي او ۱۲ خصوصي پوهنتونونه وو، چې په دولتي پوهنتونونو کې د پوهنځیو شمېره ۱۲۱ او په خصوصي هغو کې د پوهنځیو شمېره ۳۲ ته رسېدله. هغه مهال له ۵۵ زره زیاتو نارینه او ۱۲ زره څخه زیاتو ښځینه زده‌کوونکو ته د شاوخوا ۳ زره ښوونکو لخوا تدریس کېده. دغه شمېره په ۱۳۹۴ کال کې ډېره لوړه شوه. اوس په افغانستان کې تقریباً ۳٦ دولتي او ۱۰۹ خصوصي پوهنتونونه دي، چې دولتي پوهنتونونه ۲۲۳ او خصوصي پوهنتونونه ۳۷۸ پوهنځي لري. په دغو پوهنځیو کې له ۱۲.۵ زرو څخه زیات استادان له ۲۸۰ زرو څخه زیاتو محصلینو ته زده‌کړې ورکوي.

که وروستیو پنځلسو کلونو ته ځیر شو، نو څرګندېږي، چې د ښوونې او روزنې او لوړو زده‌کړو په برخه کې پرمختګ تر ډېره پر کمیت راڅرخېده او کیفیت ته کمه پاملرنه وشوه. د کمیت له پرمختګ سره، په دغو برخو کې یو شمېر ستونزې او ننګونې وې، لکه جعل او اداري فساد، خیالي ښوونځي او استادان، تړل کېدونکي ښوونځي، د هېواد امنیتي وضعیت، د مسلکي کدرونو او زېربناو کموالی، زوړ نصاب، د څېړنو د کیفیت ټیټوالی او کموالی، د کانکور بحران او په عمومي توګه په دغو برخو کې د مدیریت ضعف او داسې نور وو.

**د راپور سروې:** د مرکز د سروې له مخې ٦٢.٥٩ سلنه خلکو ویلي چې په وروستۍ یوه‌نیمه لسیزه کې د افغانستان د معارف وضعیت د کیفیت له لحاظه خراب و؛ خو د ٦٦.٢٨ سلنه په گمان بیا د کمیت له لحاظه ښه و. دغه راز ۸۳.٦۸ سلنه بیا په دې باوري وو، چې د ولایتونو ترمنځ د وزارت معارف امکانات په سمه توگه نه دي ویشل شوي. دا چې د کیفیت له لحاظه د هېواد د معارف وضعیت خراب و، عمده عوامل یې د ۳۴ سلنه په گمان د مسلکي کدرونو کموالی، د ۱۴ سلنه په اند غیر مسلکي امتحانونه، د ١٦ سلنه په اند ناامنۍ، د ۹ سلنه په اند درسي کتابونو ته کم لاسرسی او نور ښوولي وو.

د دې ترڅنگ د هېواد لوی شمېر اکثریت (۷۴.٦ سلنه) د استادانو د ظرفیت لوړولو پروگرام څخه هم خوښ نه وو او په وینا یې دا پروگرام په سمه توگه عملي شوی نه دی. دغه راز د معارف برخې اساسي ستونزې د ۳۵ سلنه په گمان ضعیف نصاب، د ۲۵ سلنه په گمان ټیټ کیفیت، د ۲۸ سلنه په گمان کمزوری مدیریت، د ٦ سلنه په گمان د زیربناو ضعف او ٦ سلنه بیا نور عوامل ښوولي وو.

دغه راز د لوړو زده‌کړو په برخه کې ۲۲ سلنه خلکو د نصاف زوړوالی، ١٦.۵ سلنه د مسلکي کدرونو کمښت، ۱۲ سلنه د اداري ضعف، ۴ سلنه د زیربناو ضعف، ۱۴ سلنه اداري فساد، ۲۷ سلنه ټول او ۴.۷۲ سلنه بیا نور عوامل اساسي ستونزې گڼلې وې.

# گزارش کنفرانس مطبوعاتی «افغانستان در یک‌ونیم دهۀ گذشته»




نتائج و خلاصۀ گزارش تحقیقی – تحلیلی «افغانستان در یک‌ونیم دهۀ گذشته» که از سوی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی (CSRS) تهیه گردیده، به روز سه‌شنبه (17 جنوری 2017) طی یک نشست خبری در هوتل انترکانتیننتل شهر کابل اعلام گردید.

این گزارش در حدود 400 صفحه تهیه شده و وضعیت سکتورهای مهم کشور در 15 سال گذشته را مورد بررسی همه‌جانبه قرار داده است. عرصه‌های صلح، سیاست خارجی، فساد اداری، مهاجرین و بی‌جاشده‌گان داخلی، اقتصاد (اقتصاد ملی، تجارت، انرژی، صنعت و زراعت)، امنیت و جرایم، معارف و تحصیلات عالی شامل این گزارش تحقیقی می‌گردد. این گزارش بربنیاد هر دو میتود کمی و کیفی توسط محققان مرکز تهیه شده و یافته‌های نظرسنجی که در شش شهر بزرگ کشور توسط مرکز انجام یافته، نیز در آن گنجانیده شده است.



نماینده‌گان رسانه‌ها و سایر اشتراک کننده‌گان

در این نشست خبری که برخی شخصیت‌ها و نماینده‌گان رسانه‌های ملی و بین‌المللی اشتراک ورزیده بودند، دکتور عبدالباقی امین رئیس مرکز مطالعات استراتیژیک ومنطقوی در سخن افتتاحی خویش روی اهمیت کار مراکز تحقیقاتی و برخی نتائج این تحقیق روشنایی انداخت و سپس حکمت الله ځلاند و احمدبلال خلیل محققان-نویسنده‌گان این گزارش از طریق یک پرزنتیشن، به معرفی و یافته‌های گزارش پرداختند.

دکتور عبدالباقی امین گفت، گزارشی که امکانات و فرصت‌های کشور را درست تحلیل و ارزیابی نموده و واقعیت‌های کشور را به مردم عرض نماید، نیاز مبرم کشور است تا در اصلاح سیاست‌ها و انکشاف پالیسی‌ها نقش مثمر را ایفا نماید.

به گفتهٔ دکتور امین، یکی از مشکلات جدی در کشور ما، مشکلات و موانع در رسیدن به معلومات است و مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی نیز هنگام تهیهٔ این گزارش با مشکلات در این زمینه مواجه بود. بنابراین، نیاز است تا حکومت در رسیدن به معلومات آسانی‌ها و تسهیلات درست را به میان آورد.

آقای امین افزود: «زمینه‌سازی برای رشد و انکشاف مراکز تحقیقاتی نیز یک نیاز مبرم است، ولی متأسفانه برنامه‌ی ملی که براساس آن مراکز تحقیقاتی وضعیت کشور را به صورت درست به مردم بیان نماید، موجود نیست و عموما پلان‌های برخی این مراکز، شکار مؤسسات تمویل‌کننده بوده که اکثرا منافع کشور را تامین نمی‌کند؛ بنابراین، باید حکومت مراکز تحقیقاتی را تقویت نماید تا این مراکز بتواند وظیفهٔ ملی خویش را در ارزیابی فعالیت‌های حکومت و اصلاح پالیسی‌ها به صورت درست انجام نماید».

به گفتهٔ دکتور عبدالباقی امین، این گزارش از هیچ مؤسسهٔ داخلی و خارجی تمویل نگردیده و با تکیه بر امکانات ذاتی این مرکز تهیه شده، به همین دلیل تا حد زیادی تلاش شده تا وضعیت کشور را به صورت واقعی و بی‌طرفانه به هم‌وطنان عزیز عرض نماید.

او گفت که این گزارش تنها یک نظرسنجی نیست بلکه معلومات دست اول و دست دوم را که از ارگان‌های مختلف به دست آورده، تحلیل و بررسی نموده و روی یک نظرسنجی نیز تکیه داشته است.

دکتور امین علاوه کرد: «این گزارش هفت سکتور عمده را بررسی کرده و در مورد صلح گزارش به این نتیجه رسیده که جنگ راه‌حل نیست و افغان‌ها نمی‌توانند از راه جنگ مشکل کشور را حل نماید، بناء صلح و گفتگوها، یگانه راهی است که می‌تواند افغانستان را از این بن‌بست بیرون نماید».

آقای امین به یافته‌های سروی که بخشی از این گزارش است، اشاره داشت و گفت: 62% پرسش‌شونده‌گان به این نظر بودند که حکومت وحدت ملی در زمینهٔ صلح تلاش‌های صادقانه نورزیده، 68% آنها وجود و تصرف‌های نیروهای خارجی و مداخلهٔ بیرونی‌ها را موانع اساسی در زمینهٔ تامین صلح یاد کرده‌اند. همچنان 66% آنها گفته اند که شورای عالی صلح در این زمینه نقش مثبتی نداشته است. و 65% اشتراک کننده‌گان به این نظر بودند که وجود یک گروه میانجی بی‌طرف در زمینهٔ گفتگوهای صلح یگانه راهی است که راه را برای گفتگوهای مثمر مهیا خواهد ساخت.




دکتور عبدالباقی امین رئیس مرکز مطالعات استراتیژیک ومنطقوی

به گفتهٔ او، در زمینهٔ سیاست خارجی 87% پرسش‌شونده‌گان گفته اند که سیاست خارجی افغانستان در قبال کشورهای رقیب، به خصوص همسایه‌ها متوازن نبوده است. و گزارش به این نتیجه رسیده که حکومت برای سیاست خارجی خویش خطوط اساسی تصویب شده از پارلمان نداشته، بناء در این زمینه مشکلاتی وجود دارد و مرکز پیشنهاد نموده تا حکومت برای رسیدن به خطوط اساسی سیاست کشور در روابط خارجی، گام‌های جدی بردارند. همچنان، حکومت وحدت ملی در سیاست خارجی خویش بعضی حسابات نادرستی داشت، از جمله امضای پیمان امنیتی با امریکا به هدف تامین امنیت در کشور که با امضای این پیمان ناامنی در کشور بیشتر شده و امنیت در افغانستان تامین نشد. همچنان در مورد روابط با پاکستان و قضیهٔ یمن و عربستان سعودی حسابات نادرستی داشت و به اهداف خویش در این روابط نرسیده است.

در مورد فساد اداری 76% پرسش‌شونده‌گان گفته اند که حکومت در مبارزه با فساد اداری تلاش‌های صادقانه نکرده و به همین دلیل هرچند بعضی اقداماتی را انجام داده ولی نتوانسته گراف فساد اداری در افغانستان را پایین آورد. در مورد اقتصاد، 71% آنها گفته اند که به آیندهٔ اقتصادی کشور بی‌باور هستند و بر مدیریت درست

حکومت وحدت ملی در این زمینه اعتماد ندارند. 90% حکومتداری خوب در کشور را دارای نواقص زیادی ارزیابی نموده، 89% درصد گفته اند که حکومت نتوانسته به مردم فرصت‌های کاری مناسبی را ایجاد نماید و 80% گفته اند که حالت اقتصادی افغانستان نظر به حکومت حامد کرزی خراب‌تر شده است.

در زمینهٔ امنیت نتائج گزارش و نظرهای اشتراک‌کننده‌گان به این دلالت می‌کند که امنیت روبه خرابی می‌رود و مردم افغانستان خود را مصئون نمی‌دانند. 58% پرسش‌شونده‌گان احساس مصئونیت نمی‌کنند. در زمینهٔ معارف اگرچه پیشرفت‌های نیز وجود دارد ولی مشکلاتی مانند کیفیت پایین در مؤسسات تعلیمی، کمبود کادرهای علمی و مسلکی، غیرمعیاری بودن برنامه‌های تثبیت سویه و نبود امتحانات شفاف و ملی نیز در این عرصه وجود داشته است. به گفتهٔ دکتور امین، برنامه‌های ارتقای ظرفیت و سوادآموزی بیشتر شکلی بوده است. در مورد تحصیلات عالی مشکل انکشاف پالیسی همچنان وجود دارد و تحقیقات علمی در مؤسسات تحصیلات عالی به صورت درست صورت نمی‌گیرد.

احمد بلال خلیل محقق این گزارش و مسؤول رسائل استراتیژیک این مرکز در بخش اول پرزنتشن به اهمیت و میتودولوژی این تحقیق پرداخت. او اظهار داشت که در 15 سال گذشته در افغانستان تحقیقی صورت نگرفته که یک‌ونیم دههٔ گذشته و سکتورهای مهم را دربر بگیرد و معلوماتی و تحلیلی نیز باشد. به گفتهٔ او، این گزارش بربنیاد هر دو میتود کمی و کیفی آماده شده که در بخش کمی، سمینارها، نشست‌ها و مصاحبه‌ها با متخصصین انجام شده و در بخش کیفی یک سروی در شش شهر بزرگ کشور از 701 تن از طبقهٔ تحصیل‌یافته که اکثریت آنان استادان پوهنتون بودند در یک پرسش‌نامهٔ دارای 50 پرسش، نیز بخشی از این تحقیق می‌باشد. آقای خلیل گفت که همه بخش‌های این گزارش دارای منابع معتبر می‌باشد.




احمد بلال خلیل محقق-نویسندۀ این گزارش و مسؤول رسائل استراتیژیک این مرکز

حکمت الله ځلاند مسؤول بخش تحقیقات مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی و محقق این گزارش در بخش دوم پرزنتشن به تشریح تمامی هفت بخش این گزارش پرداخت. آقای زلاند گفت که این گزارش در همه عرصه‌ها به نتائج مهمی دست یافته و به گونۀ مثال در عرصۀ صلح به موانعی که در راه موفقیت شورای عالی صلح وجود داشت، اشاره شده و عدم موجودیت صلاحیت و استقلال لازم، نبود هماهنگی میان اعضای این شورا، نبود یک میکانیزم و راه‌کار مشخص، استفاده از پست‌های این شورا به عنوان رشوت سیاسی، و مشکل مفهوم صلح با این شورا، به عنوان موانع اساسی در راه موفق شدن این شورا بحث شده است. در همین حال، مولوی شهزاده شاهد عضو شورای عالی صلح که در این کنفرانس اشتراک نموده بود، پس از کنفرانس در گفتگو با رسانه‌ها با تایید یافته‌های این گزارش گفت که شورای عالی صلح به اندازه‌ی که از این شورا توقع می‌رفت، دست‌آوردهایی نداشته است.

حکمت الله زلاند در ادامۀ سخنان خویش افزود که هرچند بعد منطقه‌ای قضیۀ صلح افغانستان مهم است؛ ولی صلح در کشور تنها از طریق سیاست خارجی تامین نخواهد شد. به همین دلیل تلاش‌های گروه هماهنگی چهارجانبه نیز به نتیجۀ مطلوب نرسید و با ناکامی روبه‌رو شد.

به گفتۀ او، گزارش در عرصۀ سیاست خارجی اشاره دارد که حکومت افغانستان در یک‌ونیم دهۀ گذشته یک راه‌کار مدون سیاست خارجی و خطوط اساسی تصویب شده از پارلمان برای سیاست خارجی نداشت، مسئله‌ای که در پیشنهادات مرکز نیز آمده است. در کنار این‌ها، در بخش سیاست خارجی خاصتا راه‌کار ناهماهنگ حکومت وحدت ملی در مورد سیاست خارجی مورد بحث قرار گرفته است.




حکمت الله ځلاند محقق-نویسندۀ این گزارش و مسؤول بخش تحقیقات مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

حکمت الله زلاند گفت که بربنیاد یافته‌های گزارش، فساد اداری یک مشکل بزرگ افغانستان در یک‌ونیم دهۀ گذشته بوده و باعث شده تا حقوق بشری افغان‌ها پایمال شود و در قضیۀ گسترش فساد اداری تنها افغان‌ها مقصر نبودند، بلکه خارجی‌ها نیز در گسترش و ترویج فساد اداری در افغانستان نقش عمده‌ای را بازی کرده است. او گفت که در سروی مرکز اکثریت اهل نظر در مورد تلاش‌های حکومت وحدت ملی برضد فساد اداری

ابراز بی‌باوری کرده‌اند و ۴۴.۵۸ درصد آن‌ها به این باور بودند که نسبت به حکومت قبلی، میزان فساد اداری در حکومت فعلی بیشتر شده است.

محمد زبیر شفیقی تحلیلگر سیاسی و مدیر مسؤول روزنامهٔ ویسا که گزارش را قبلا مطالعه نموده بود، آنرا یک کار بزرگ خوانده و گفت که تاکنون ارگان‌های دولتی و ارگان‌های خصوصی به آماده کردن چنین گزارشی موفق نشده بودند و این گزارش در نوع خویش نخسین گزارش در کشور است.




محمد زبیر شفیقي تحلیلگر سیاسی و مدیر مسؤول روزنامهٔ ویسا

به گفتهٔ او، این گزارش نه تنها اینکه یک گزارش تحقیقی است بلکه یک کرونولوژی معتبر نیز است و تسلسل حوادث 15 سال گذشته به گونهٔ بسیار دقیق رعایت گردیده است.

آقای شفیقی گفت که این گزارش به گونهٔ واقعی برای نویسنده‌گان، محققین و کسانی که کتاب و یا مقاله می‌نویسند به عنوان مواد دست اول یک ذخیرهٔ بزرگ و مهم می‌باشد و مواد گزارش تا حد زیادی متوازن و بی‌طرفانه بحث شده است.

او افزود که سروی که این مرکز انجام داده و یافته‌های آن در این گزارش جابجا گردیده، نیز موافق با نظریات عموم مردم به نظر می‌رسد و چیزی در آن دیده نمی‌شود که مخالف با ذهنیت عامه باشد.

هرچند نهادهای مختلف ملی و بین‌المللی همه‌ساله در مورد وضعیت افغانستان گزارش‌ها و سروی‌ها را به نشر می‌رسانند، ولی ویژه‌گی این گزارش در مشمول بودن آن به سکتورهای متعدد و 15 سال گذشته نهفته است که حاوی پیشینهٔ سکتورهای مذکور، وضعیت این سکتورها پس از سال 1380 هـ ش، و تمرکز بیشتر روی سال 1394 هـ ش می‌باشد. در کنار پیشرفت‌ها، ناکامی‌ها، مشکلات و چالش‌های عرصه‌های مذکور، پیشنهادات مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی در مورد آن نیز در این گزارش ارائه گردیده است.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (93+)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (93+) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (93+) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.